قاصد
QASED
Strategic Research Center

# راصد

## ۴۵مه ګڼه

(۱۳–۱۹ مارچ ۲۰۲۰م)

(۲۳–۲۹ حوت ۱۳۹۸ هـ ش)

## د افغان جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور



راصد اوونیز راپور په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د ټولنې د نخبه پاړکي، واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو او همدا راز نړیوالو جهتونو پام راړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۲۰م کال د مارچ له ۱۳مې تر ۱۹مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د کب له ۲۳مې تر ۲۹مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې شمېرې رانغاړي. دا اوونۍ د هېواد په کچه ټول ۱۶۷ تنه وژل شوي او ۱۵۷ نور هم ټپیان شوي دي.

د راپور د شمېرو له مخې، دا اوونۍ په هېواد کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې ده. تېره اوونۍ په ټول هېواد کې ۲۶۸ تنه وژل شوي او ټپیان شوي وو، خو په دې اوونۍ کې ټول ۳۲۴ تنه وژل شوي او ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو د مرګژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه شوې وه. د افغان ځواکونو د مرګژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په کندهار، کندز او غور ولایتونو کې وشوې، چېرته چې د دولت د وسله‌والو مخالفینو په بریدونو کې لږ تر لږه ۲۱ امنیتي سرتېري ووژل شول او ۴۵ نور ټپیان شول.

د ملکي وګړو د مرګژوبلې کچه بیا د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. د ملکي مرګژوبلې تر ټولو خونړۍ پېښې په غور، کندز او تخار ولایتونو کې وشوې چې لږ تر لږه ۷ تنه ملکي وګړي پکې ووژل شول او ۲۰ نور ټپیان شول.

په بل اړخ کې د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله د زیاتوالي ښودنه کوي.

په دغه راپور کې د افغان ځواکونو، د دولت د وسله‌والو مخالفینو او د ملکي خلکو د مرګژوبلې شمېرې او جزئیات لولئ. همدا راز د راپور په وروستۍ برخه کې د هېواد د ټولیز امنیتي وضعیت او مهمو امنیتي پېښو په اړه تحلیل لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د مارچ ۱۳مه:**

د کندز ولایت په دشت آبدان سیمه کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې، یو پولیس وژل شوی دی.

د بادغېس ولایت د قادس ولسوالۍ په مرکز کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې دوه ملي پولیس، دوه سیمه‌ییز پولیس او یو سپېشل فورس سرتېری وژل شوي دي.

**د مارچ ۱۴مه:**

د کندهار ولایت په ژیړۍ ولسوالۍ کې یوه سیمه‌ییز پولیس پر خپل قوماندان او خپلو نورو همکارانو ډزې وکړې، چې له کبله یې ۴ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په تیمورک او حضرت قیشلاق سیمو کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۳ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او یو بل ټپي شوی دی.

د غور ولایت د شهرک ولسوالۍ په سلاح خانه سیمه کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۲ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۷ نور ټپیان دي.

**د مارچ ۱۵مه:**

وسله‌والو طالبانو د فاریاب ولایت د المار ولسوالۍ پر مرکز او امنیتي پوستو بریدونه وکړل، چې وروسته نښته را منځته شوه له کبله یې ۲ امنیتي سرتېري ټپیان شوي دي.

د غور ولایت د دولتیار ولسوالۍ په قاضیانو سیمه کې د وسله‌والو طالبانو له لوري یو د ملي اردو سرتېری په ډزو وژل شوی او ۳ نور ټپیان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې پر یوه امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې یو پولیس وژل شوی او ۵ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت په دهنه‌غوري ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۲ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ښار د اتمي امنیتي حوزې اړوند په شیدایي سیمه کې یوه ناپېژاند وسله‌وال، یو د ملي اردو سرتېری په ډزو وواژه.

**د مارچ ۱٦مه:**

د غور ولایت په شهرک ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ٦ کوماندو سرتېري ۵ د ملي اردو سرتېري او ۲ پولیس وژل شوي او ۲۰ نور امنیتي سرتېري ټپیان شوي دي.

په فاریاب ولایت کې د امنیتي پېښې پر مهال یو امنیتي سرتېری وژل شوی دی.

د کندز ولایت د خان آباد ولسوالۍ په جنت باغ سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۵ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۱۴ نور ټپیان شوي دي.

د تخار ولایت په درقد ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ۳ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولايت په مرکز مزارشريف ښار کې د ماين د چاودنې له کبله يو پوليس وژل شوی او يو بل ټپي شوی دی.

د هرات ولايت په غوريان ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په بريد کې يو پوليس وژل شوی او يو بل ټپی شوی دی.

د هلمند ولايت په مرکز لښکرگاه ښار کې موټرسايکل سپاره وسله‌وال د ملي امنيت يو سرتېری په ډزو وواژه او بل يې ټپي کړ.

**د مارچ ۱۷مه:**

د بادغيس ولايت په جوند ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې يو د ملي اردو سرتېری او ۳ پوليس وژل شوي دي.

د ميدان وردگو ولايت د سيدآباد ولسوالۍ د تنگي درې په دو راهي سيمه کې، د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماين په چاودنه کې ۳ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۳ نور ټپيان شوي دي.

د بلخ ولايت په بلخ ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په کمين کې يو پوليس وژل شوی دی.

د هرات ولايت په کهسان ولسوالۍ کې د امنيه قوماندانۍ د جنايي مديريت د ځوانانو جرمونو ته د رسېدنې آمر د ناپېژاندو وسله‌والو له لوري وژل شوی دی.

د هلمند ولايت د مرکز لښکرگاه ښار په بولان سيمه کې د ناپېژاندو موټر سايکل سپرو په بريد کې يو پوليس وژل شوی او يو بل ټپی شوی دی.

د بلخ ولايت په مرکز مزارشريف ښار کې د پوليسو پر گزمې د ماين چاودنه وشوه، چې له کبله يې يو امنيتي سرتېری وژل شوی دی.

د بلخ ولايت د مزار-جوزجان په لويه لاره وسله‌والو طالبانو پر افغان ځواکونو بريد وکړ، چې له کبله يې ۵ د ملي اردو سرتېري ټپيان شوي دي.

**د مارچ ۱۸مه:**

د هرات ښار په شيرمه امنتيي حوزه کې يو پوليس د وسله‌والو طالبانو په بريد کې ووژل شو.

د کاپيسا ولايت په آله ساى ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماين په چاودنه کې ۲ پوليس وژل شوي او يو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۱۹مه:**

د بغلان ولایت په نهرین ولسوالۍ کې د وسله‌والو  طالبانو په برید کې ۳ پولیس وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت د ناوې ولسوالۍ په شورشرک سیمه کې د افغان ځواکونو پر یوه ټانک چاودنه وشوه چې له کبله یې ۴ د ملي اردو سرتېري وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندز ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو پر یوه امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۳ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په غوریان ولسوالۍ کې یوه موټرسایکل سپاره وسله‌وال یو پولیس په ډزو وواژه.

وسله‌والو طالبانو د بلخ ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې پر یوه امنیتي پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۳ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**جدول-۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۲۹ | ۴۴ | ۷۳ |
| پولیس | ۴۵ | ۴۸ | ۹۳ |
| مجموعه | **۷۴** | **۹۲** | **۱٦٦** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د مارچ ۱۳مه:**

د بادغیس ولایت د قادس ولسوالۍ په مرکز کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې له کبله یې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ په کمپ بازار سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ۱۴مه:**

د غور ولایت د شهرک ولسوالۍ په سلاح خانه سیمه کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ، چې وروسته نښته رامنځته شوه او له کبله یې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې په یوه هوایي برید کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ۱۵مه:**

وسله‌والو طالبانو د فاریاب ولایت د الماړ ولسوالۍ پر مرکز او امنیتي پوستو بریدونه وکړل، چې وروسته نښته را منځته شوه له کبله یې ۴ وسله‌وال طالبان ووژل شول.

د غور ولایت په شهرک ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان ځواکونو پر پوسته برید وکړ چې، وروسته نښته رامنځته شوه او له کبله یې ۱۵ وسله‌وال طالبان ووژل شول.

**د مارچ ١٦مه:**

د غور ولایت د کمنج ولسوالۍ اړوند په کوتل سلاح خانه سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

په فاریاب ولایت کې د یوې امنیتي پېښې پر مهال ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د کندز ولایت د خان آباد ولسوالۍ په جنت باغ سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۸ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د مارچ ۱۷مه:**

د بادغیس ولایت په جوند ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ٦ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ۱۸مه:**

د هلمند ولایت په نهر سراج، نادعلي، او ګرمسېر ولسوالیو کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌والو نښتو کې ۱۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۸ نور وژل شوي دي.

د کندز ولایت په خان آباد ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

**د مارچ ۱۹مه:**

د تخار ولایت په مرکز تالقانو کې د خپل ماین د چاودنې له کبله ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

**جدول-۲: د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| طالبان | ۸۲ | ۳۴ | ۱۱٦ |
| داعش | - | - | - |
| مجموعه | **۸۲** | **۳۴** | **۱۱٦** |

## ملکي وګړو ته اوښتي مرګ‌ژوبله

**د مارچ ۱٦مه:**

په فاریاب ولایت کې د یوې امنیتي پېښې پر مهال یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

د کندز ولایت د خان آباد ولسوالۍ په جنت باغ سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې ۳ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

د بادغیس ولایت په آب کمري ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله د یوه شپون زوی ووژل شو.

د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د ماین د چاودنې له کبله ۴ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

**د مارچ ۱۷مه:**

د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې د پولیسو پر ګزمې د ماین چاودنه وشوه چې له کبله یې یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

د بلخ ولایت په چهار بولک ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

د بلخ ولایت په پلخ ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې یو ملکي وګړی هم وژل شوی دی.

د بادغیس ولایت په جوند ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې یو ملکي وګړی وژل شوی دی.

**د مارچ ۱۸مه:**

د غور ولایت د مرکز فیروزکوه ښار د هرات – غور پر لویه لاره د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله یو ملکي وګړی وژل شوی او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت په شولګره ولسوالۍ کې پر یوه شخصي موټر د چسپکي ماین د چاودنې له کبله یو ملکي وګړی وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په ادرسکن ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌ولو طالبانو ترمنځ په وسله‌واله نښته کې یو ملکي وګړی هم وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

**د مارچ ۱۹مه:**

د تخار ولایت په مرکز تالقانو کې پر وسله‌والو طالبانو د خپل ماین چاودنه کې ۲ ملکي وګړي هم وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

**جدول-۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۱۱ | ۳۱ | ۴۲ |
| مجموعه | **۱۱** | **۳۱** | **۴۲** |

## پایله او د اوونۍ تحلیل

د راپور د شمېرو له مخې، د روان لمریز ۱۳۹۸ کال د کب له ۲۳مې تر ۲۹مې (د ۲۰۲۰م د مارچ له ۱۳مې تر ۱۹مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۳۲۴ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده، چې ۱۶۷ یې وژل شوي او ۱۵۷ نور هم ټپیان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې مجموعي کچه لوړه شوې ده. د افغان ځواکونو مرګ‌ژوبله دا اوونۍ د تېرې اوونۍ په پرتله د زیاتوالي ښودنه کوي. په تېره اوونۍ کې ۳۴ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې دا کچه لوړه شوې ده او ټول ۷۴ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي. د دولت د وسله‌والو مخالفینو د مرګ‌ژوبلې کچه هم د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه ټیټه ده. په تېره اوونۍ کې ۵۸ تنه د دولت وسله‌وال مخالفین وژل شوي وو؛ خو په دې اوونۍ کې دا شمېره ۸۲ تنه ده. د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه بیا د تېرې اوونۍ په پرتله د کموالي ښودنه کوي. په تېره اوونۍ کې د ملکي وګړو د وژل شوو شمېر ۴۳ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بیا دا شمېره ۱۱ تنو ته راټیټه شوې ده.

دا اوونۍ د ۱۳۹۸ لمریز کال وروستۍ اوونۍ وه او دغه کال هم داسې مهال پای ته ورسېد، چې لسګونه افغانان پکې هره ورځ د جګړې قرباني کېږي. که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې د توافق تر لاسلیک کېدو وروسته په مجموعي توګه د ټول هېواد په کچه تاوتریخوالی کم شوی او له کبله یې د مرګ‌ژوبلې کچه هم راټیټه شوې ده؛ خو لا هم د دغې جګړې د بشپړ ختمېدو لپاره ګڼ خنډونه په مخ کې پراته دي.

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په توافق کې د بین الافغاني خبرو اترو د پیل لپاره د طالبانو او افغان حکومت د بندیانو تبادله د شرط په توګه منل شوې ده؛ خو په دې تړاو تراوسه کوم قاطع ګام نه دی پورته شوی. که څه هم ولسمشر اشرف غني د ۵۰۰۰ طالب بندیانو د خوشې کولو مشروط فرمان لاسلیک کړی؛ خو له یوې خوا طالبان له امریکا سره د توافق له مخې د بندیانو په تبادله کې شرطونه نه مني او له بلې خوا افغان حکومت کوم عملي ګام نه دی پورته کړی. له همدې کبله تازه د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په یوه ټویټ کې ویلي، چې امریکا غواړي له طالبانو سره د شوي توافق له مخې بندیان ژر تر ژره خوشې شي.

د دې ترڅنګ د بین الافغاني خبرو اترو د نه پیلېدو نور لاملونه هم شته دي، چې تر ټولو مهم یې د ولسمشرۍ له ټاکنو راولاړ شوی کړکېچن سیاسي وضعیت او په هېواد کې د کرونا وایروس له کبله خپره شوې وېره ده. د امریکا د ځانګړي استازي له هڅو سره سره لا هم د اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ د ټاکنو جنجال نه دی حل شوی او افغان سیاسیون د سولې د قضیې پر ځای تر ډېره پر ټاکنیز جنجال بوخت دي.

قاصد د ستراتېژیکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جګړې د مرګ‌ژوبلې د څارونکي ارګان په توګه ټینګار کوي، چې په هېواد کې د رواني وینې توییدنې او خونړي وضعیت پای یوازې او یوازې د بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او بین الافغاني تفاهم له لارې شونی دی. له همدې کبله پر افغان حکومت او ښکېلو نړیوالو لورو غږ کوو، چې د سولې هڅو ته پام واړوي او له دغې ملي مسئلې سره مسؤولانه چلند وکړي.

**جدول-۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله:**

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيـــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۷۴ | افغان ځواکونه | ۲٦ |
| د دولت وسله‌وال مخالفين | ۸۲ | د دولت وسله‌وال مخالفين | ۱۹ |
| ملکي وګړي | ۱۱ | ملکي وګړي | ۸۴ |
| بهرني ځواکونه | - | بهرني ځواکونه | - |
| **مجموعه** | **۱٦۷** | **مجموعه** | **۱۵۷** |
| **ټول وژل شوي او ټپيان ۳۲۴** | | | |

پای